مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر ۲۰۱۹/۱۲/۲۱

د قدرت غوښتنې رسوايي يا زه يې نه منم

رتبه یی هرگز ندیدم، بهـــــــــتر از افتادگي
هر که خود را کم زما می داند ، از ما بهتر است

(صایب تبریزی)

کله کله د کار او کار زار میدان او وخت وي، سړی باید چې هر کله د وطن د پاره چې ضرورت وي، تیاری ولري او تیار وي، ځکه په لباس او تجمل کې ځان مصروفه ساتل هم د یو چا د پاره چې د خدمتگار په توگه یې میدان ته دانگلي دي ښه کار نه دی، باید دا قیمتي وخت ضایع نه کړي، چې گوندی سړی دي په ځان او مود و فیشن کې ډوب شي، نو بیا ترقي او پرمختگ راوستل گرانه خبره ده.
علامه اقبال دغسي ځوانانو ته پیغام لري چې وايي:

علم و فن را ای جوان شوخ وشنگ
مغز می باید، نه ملـــــبوس فرنگ

کله کله خو په کار ده چې سړی لکه گاندی په شان، په خپل یو لنگ چپلکو سره دومره عظیمه رهبري پرمخ بوزي، لکه د هندوستان په شان یوي لویي وچې، چې تر ننه پوري ټوله دنیا ورته احترام لري، خو په یو لنگ او چپلکو کی به گرځیده، خو ټوله آرزو یې د وطن (هندوستان) د پاره خدمت وو، اوس نه یواځې هندوستان، بلکه د دنیا د ډیرو خلکو په زړونو کې ځای لري، هغوي شپه او ورځ خپل ځانونو باندی راحت حرام کړی و او د خپلو خلکو په درد و غم کې کړیدلي دي، آ دي مرحوم جنرال سید حسن خان د دي شعر په استناد:

راحت پریږده، زحمت واخله سید حسنه
د وطن په درد و غـــم ژړیدل زده کړه

موږ وینو چې زموږ ځیني چارواکي ډیر ښه وختونه او فرصتونه د ځان په سمبالولو او د جامو په اخیستلو او اغوستلو فکر کوي او په فکر کې یې وخت تیروي،
زمونږ د وطن د دردمن شاعر ادیب لیکوال مرحوم جنرال سید حسن (حسن) په خپل یو بل شعر کې داسي تجمل پرسته ځوانانو ته وايي:

کـه په کـــــــف او په کالر وي، علامه یي
که پـه علم او په هنر وي، د خـــره ورور یي

که په خوله وي، قوم پرست او وطن خواه یي
په عمل بانـدی کم بخـــــته، د پیـــــغور یي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دنیا د رهبرانو ځیني وخت د موقع شناسۍ او د وختونو د غنیمتولو تر څنګه یې خپل ځانونه یې د روښانتیا او ترقی د پاره قرباني کړي ، دځان بربادي او سوځیدل یې غوښتي ، خو د ملک او ټولني د پرمختګ او سو کالۍ په خاطر یې هر راز قربانۍ ته ځانونه چمتو کړي دي ، ، آ دي صاحب شاه صابر شعر دی چې وایي :

مونږ د ځان نه یو ، په ځان نه یو صابره
مونږ دي وسوځــو خو لارې دي رڼا شي

هیڅ ضرورت نشته او انسان ځان دومره په تجمل پرستي او .. ځان ښودنی کی غرق کړي ، چې خلک ور پسې دا تبصري وکړي ،او نورو ته دا وخت په لاس ورکړي ، چې پرې تبصري وکړي ،لکه په فیسبوکونو او میډیا کې دا شعر عبدالله عبدالله ته په اشاره یې ویيلي :

آدمی زاده نادان به چـــــــه ماند داني؟
نسخه معتبر و، خوش خط و بسیار غلط

مونږ په دي څو ورځو کي په خپلو سترګو وینو ، چې ډاکترعبدالله عبدالله د قدرت د لاسته راوړلو د پاره د بی شرمۍ تر سرحده هلې ځلې او شور او فریاد کوي ، تر دې اندازی پوري چې د والي علی احمد خان د قدرت غوښتني ، او کومه علاقه چې یې د قدرت او مقام د لاسته راوړلو د پاره تر جنون حده پوري درلوده ،هغه د ټولو څخه هیره شوه ،اګرکه تنظیمی جنګونو د ۱۳۷۰ کلونو په موده کي تر دي بد تر هم شوي ، خو د ډاکتر عبدالله ډیر کوښښ دا وو ، او فقط اوفقط کوشش یې دا وو ، چې ګوندی هر څه کیږي ماته دي وشي ، تر ځان هیڅوک ورته شایسته د دې کار نه ښکاریده او نه ښکاري،د ده دا دومره هلې ځلې او فریادونو دا په وضاحت سره ثابته کړه ، چې تیر ځل هم درغلی نه وه شوی ، او ده په ډیر سپین سترګی ځان په حکومت کي شریک کړو ،او تر ننه پوري یې په دي مقام او چوکی کښی شاید کوم خدمت هم نه وي کړی ،ما د مخه له دي چې د انتخاباتو ټاکني پیل شي ،د وړاندوینې په بڼه لیکلي وو ، چې هغه پست می د ۲۰۱۹ روان کال په ۲۷ د دسمبر په فیسبوک کي غورځولی وو ، او داسي می لیکلي وو ،(دا خطره هم شته ،او اند یښنه په تیره د دردمنو وطن دوستانو ،چې بیا به د انتخاباتو نه وروسته کوم یو د کاندیدانو نه ځان مرور اچوي ،او شور او فریاد سر کوي چې هلی ګوری ، وه خلکو په انتخاباتو کي درغلی وشو ، که نه زه رییس جمهور وم .دا کار برسیره پر دې ، چې ځان شرمول دي ،د انتخاباتو د کمیسون حیثیت ته هم زیان رسوی ، د بله خوا مونږ دنیا والو ته ډیر ټیټ ښایي ،اوس خو د دوي په خولو کي د مخه ایښودل شوي ده ، چې هلی درغلي روانه ده ،د بهر او ګاونډیانو د استخباراتی سازمانونو پروپاګنډې دي ،چې دي ټکي ته باید په پوره ډول ټول خپل پام وسا تي ، چې دا ځلي شپږ اوه کسان ځانو نه مرور وا نه چوي ، او ځان په راتلونکی حکومت کي شریک نه کړي ،خدای تعالی دي تیري تجربی نه تکراروي) دا وه زما وړانوینه چې په فیسبوک کي ما اچولي وه چې نتیجه یې همدا هم شوه ، چې هماغه خلکو ورپسي جوړه کړي ، چې ګلمرجان یې نه مني ، او ده بیا شورو فریاد واچوو ، چې زه یې نه منم ، د کمیسیون په مسولینو باندی هم دومره فشار دی چې حد نه لري ،نه یې منم خو یو ځل په اویایم لسیزو کي د ذلت کندی ته واچولو و ډیر په لنډو مودو کي په مونږ ډیر یو لوی د عبرت تاریخ تیر شو ،

ډیــر عبرتناکه زماني کي اوسو
دا عبرتګاه په مونږ اثر نه لري

چې همدغه نه یې منم نه څومره بربادی مینځ ته راغله ،د تیر تاریخ نه باید د رودکی د دي فارسی شعر په استناد عبرت واخلو چې وایي :

هرکه ناموخت از گذشت روزگار
نـیـز نامـوزد، زهیـــــچ آموزگار

همدغه نه یې منم خو هر ځل رسوا رسوا کړو ، او د دوی د ي بی با کی دي حالت ته ورسولو،چې د دوی نه اوس دا خیر دی چې مونږ ته پاتی دی:

د بـیـبـاکانو دغـه خیر دی، پاتي
چې رانه نن لار د سبا ورکه ده

دومره تکبر هم ښه کار نه دی د بایزید بسطامی وینا ده چې :

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

هرگز از متکبر بوی معرفت نیاید،

باید چې لږ په خلاصو سترګو په اړخونو نظر واچوو،ولی چې د دښمنانو لاسونه کار کوي ، او مونږ باید په خپل لاس دا موقع ورنه کړو ،او په هر وخت کې خپله هوښیاري او پوهنه وساتو ،د ښمنانو د فرصتونو او وختونو څخه ډیره ښه ګټه اوچته کړې ،او کوی یې ،په ډیر وختونو کې باید خود ګذری هم د ترقی او پرمختګ په خاطر ولرو ،یا د خیر او صلاح په خاطر یې ولرو ،ځکه د دنیا ډیرو پوهو خلکو او سیاست مدارانو دا کار کړی دی ،زمونږ ګاونډیانو د وخت څخه ډیره ښه ګټه پورته کړې ، او کوي یې ،مونږ باید خلکو ته روحیه ورکړو .زمونږ کړیدلي او مصبت زپلي خلک چې دا حالت د بی اتفاقی وګوري نور هم ځوریږي .خو ټولو بیا هم د امید سترګي د پروردګار د رحمت دروازی ته ، نیولي دي ، ستاسو مشرانو نه زمونږ هیله ده داده ، چې نور دا ملت نا هیلي نه کړئ ،نور د سمون او سوکالی فکر وکړئ.زمونږ سترګي د امید ستاسي په لور دي، په پای کې خپلي خبري د عرفی د دي شعر په بنا چې نه نا امیده کیږو او امید لرو، رالنډوم :

گر نخـــــل وفابر ندهد ، چشـــم تری هست
تاریشـــه در آب است ، امید ثمری هـــــست

هرچند رســـــــد ، آیت یأس ،از درو دیوار
بر بام و دری دوست ، پریشان نظری هست

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ